# د ډاکټر شمشېر علي خان

# په شهادت ټوله پښتونخوا کښې تعزيتي غونډې

قاضي حضورالله

د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي جائنټ سېکرټري او د صوبائي اسمبلۍ غړي ډاکټر شمشمېر علي ايډوکېټ د سوات په کبل علاقه کښې په يوه خودکُشه حمله کښې په شهادت ورسېدو، د دوي په شهادت د پښتونخوا په ټولو ضلعو او قبائلي سيمو کښې د غم او غصې څرګندوني وشوې. د عوامي نېشنل پارټۍ د صوبې صدر سېنېټر افراسياب خټک د هداياتو په رڼا کښې د عوامي نېشنل پارټۍ پښتونخوا صوبې په ټولو ضلعو کښې د ضلعي تنظيمونو او قبائلي سيمو کښې د قبائلي تنظيمونو د سپوري لاندې د دسمبر د مياشتې په دوېمه نېټه د ډاکټر شمشېر علي شهيد روح ته د ثواب رسولو په غرض قرآن خواني او تعزيتي غونډې وشوې. په دې سلسله کښې په باچا خان مرکز پېښور کښې د عوامي نېشنل پارټۍ پښتونخوا کابينې، پېښور ضلعې، سټي ډسټرکټ پېښور او اې اېن پي پښتونخوا صوبې د ښځو ارګنائزنګ کمېټۍ او د ښځو اېم پي اې ګانو د سپوري لاندې قرآن خواني او يوه درنه تعزيتي غونډه وشوه چې پکښې افراسياب خټک صېب، تاج الدين خان، ارباب طاهر، قېصر خان ايډوکېټ، حميدالرحمان محمدزي، شفګته ملک، منور فرمان، سکينه رحمان، ميا مشتاق احمد، ملک غلام مصطفیٰ، عبدالرحيم خان، نواب علي يوسفزي او نورو ګڼ شمېر مشرانو ګډون وکړو.

کوز دير کښې د بهادرخان، بره دير کښې د سعيد انورخان، ضلع چارسده کښې هارون، نوښار کښې احرار خټک، مردان کښې انجنيئر عباس، کوهاټ کښې عنايت قرېشي، لکي مروت کښې صدرالدين مروت، هنګو کښې ملک يونس خان، ايبټ اباد کښې همايون خان جدون، بټګرام کښې جاوېد خان آف تاکوټ، شمالي وزيرستان کښې فضل حميد داؤړ، جنوبي وزيرستان کښې علي وزير، کرمه ايجنسۍ کښې مومند شاهين، مومند ايجنسۍ کښې غلام خان ګرېز، خېبر ايجنسي کښې ملک عبدالرحيم، باجوړ ايجنسۍ کښې حاجي ګل زاده، چترال کښې د سيد مظفر علي شاه، هري پور کښې شوکت مشوانې د صدارت لاندې د شهيد ډاکټر شمشمېر علي خان د پاره قرآن خواني او تعزيتي غونډې وشوې.

باچا خان مرکز کښې د ډاکټر شمشمېر علي د شهادت د پېښې په غم د عوامي نېشنل پارټۍ بېرغ ښکته کړے شوے ؤ او د عوامي نېشنل پارټۍ

مشرانو او غړو په خپلو متو د توري کپړې پټې ترلې وې او باچا خان مرکز ځلورو خواؤ ته تور بیرغونه اوېزان کړې شوي وو.

د تعزیتي غونډو په موقع د عوامي نېشنل پارټۍ مشرانو په خپلو وېناګانو کښې ووې چې ډاکټر شمشېر علي خان شهید د پښتنې خاورې دپاره د خپل قیمتي ژوند قرباني ورکړه. د پارټۍ یو فعال او سرګرم غړے ؤ او د هغهٔ د پارټۍ په پرمختګ کښې ډېر اهم او څرګند کردار ؤ.

دوي ووئیل چې د دهشت ګردو د ختمولو پورې به زمونږ جدوجهد جاري وي، د دهشت ګردۍ په ضد جنګ کښې اې این پي یواځینۍ پارټي ده چې ۲۷۲ قائدین او ورکران ئې شهیدان شوي دي. عوامي نېشنل پارټۍ د ترهګرۍ د ختمولو کلکه اراده کړې ده او انشاءالله ډېر زر به د ملاکنډ ډویژن په شان د صوبې په نورو ضلعو کښې هم امن قائم کړے شي.

باچا خان مرکز پېښور کښې د قرآن خوانۍ او تعزیتي غونډې نه پس د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر سېنېټر افراسیاب خټک پرېس کانفرنس ته خطاب وکړو، دوي په خپل خطاب کښې ووې چې عوامي نېشنل پارټي د ملک د خارجه پالیسۍ او په قبائلي سیمو کښې د دهشت ګردو خلاف په کارروایۍ د عدم اطمینان څرګندونه وکړه او دا خبره ئې په ډاګه کړه چې کهٔ چرې قبائلي سیمو کښې د دهشت ګردو اډې ختمې نهٔ کړې شوې نو په دې صورت کښې به په دې خطه کښې عالمي جنګ جوړ شي. پنجاب دې په قبائلي علاقو کښې د موجودو دهشت ګردو په حقله سترګې نهٔ پټوي، د دې دهشت ګردو نظریاتي او فکري قیادت هم په پنجاب کښې موجود دے. دوي ووئیل چې د دهشت ګردۍ خلاف فاټا بنیادي کردار ادا کړے دے، فاټا کښې دهشت ګردو خپل متوازي حکومت قائم کړے دے او د ملاکنډ نه هم دهشت ګرد تښتېدلي دي او وزیرستان ته تللي دي چې اوس په وزیرستان او باجوړ کښې بیا ځان مضبوطوي.

دوي ووئیل چې تر څو پورې د دې دهشت ګردو مرکزونه موجود وي نو دهشت ګردي ختمېدل ناممکن دي. صوبائي حکومت د صوبې نه دهشت ګردۍ خاتمه کړې ده خو په فاټا کښې دهشت ګرد موجود دي، دې دپاره مرکز له پکار دي چې خپله ذمه واري پوره کړي. دوي ووئیل چې سیکیورټي فورسز د دهشت ګردو خلاف په جنوبي وزیرستان کښې مناسب کارروائي کړې ده خو د دهشت ګردو قیادت شمالي وزیرستان ته تښتېدلے دے. کهٔ چرې د فاټا د دهشت ګردو قیادت او نېټ ورک په وخت ختم نهٔ کړے شو نو دا خطه د عالمي جنګ مېدان جوړېدے شي ولې چې دلته په ډېر لوئے تعداد د بهرني شرخوښي موجود دي.

دوي وئیل چې زمونږ حکومت ته په خپله خارجه پالیسي او ګاونډي ملکونو سره تعلقاتو باندې نظر ثاني کول پکار دي او د بېروني مداخلت مونږ مخالف یو. هندوستان او افغانستان سره زمونږ تعلقات هغسې درست نهٔ دي څنګه چې پکار دي خو د ایران سره هم په تعلقاتو کښې تاؤ تریخوالے پېدا شوے دے.